# لوگر ولایت کې دوو مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

دوشنبه ۱۴۰۳/۷/۳۰ - ۱۲:۴۲




د لوگر ولایت د خروار ولسوالۍ ابتدائیه محکمې په حکم د یوې ښځې په گډون دوو کسانو ته په ۱۳/۴/۱۴۴۶ هـ ق د نامشروع اړیکو په جرم تعزیري سزا ورکړل شوه.

د تعزیري سزا د تطبیق په موخه جوړه شوې غونډه کې چې د محاکمو او نورو امارتي ادارو مسؤولینو په کې گډون درلود، د علماء کرامو لخوا د حدودو او تعزیراتو د تطبیق پر گټو خبرې وشوې.

د خروار ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د یادو کسانو له ډلې مجرم په څلور میاشتې تنفیذي

بند او ۳۹ دُرو او مجرمه په څلور میاشتې تنفیذي بند او ۳۵ دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو.

د تعزیري سزا دغه حکم د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر مجرمینو تطبیق شو.